مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

عبدالوهاب باور

۲۰۲۶/۰۲/۱۲

# دنیا نه ځان سره چا وړي څه دي

مهمه نه ده چې د کار سړی يې!
مهمه دا ده چې تا کړي څه دي!؟

پخپلو شتو له ځانه مه ورکېږه
دنيا نه ځان سره چا وړي څه دي!؟

د دار حلقه خو ترېنه تا جوړه کړه
پړي به څه وکړي؟ نو پړي څه دي!؟

د انسانيت اصلي جوهر پکار دي
ګني دا نور د وجود غړي څه دي!؟

ځان دې خپل ذات کې په سفر ستړی کړه!
باوره دا ددنيا ستړي څه دي!؟



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ